دا کتاب له اصلاح انلاین څخه ډاونلوډ شوی

تاسې کولی شئ له همدې سایټ څخه په زرګونو

اسلامي او تحلیلي مقالې، په سلګونو اسلامي

ویډیوګانې او ترانې او بېلابېل کتابونه ډاونلوډ کړئ

ادرس:

www.Eslahonline.net



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام علىمحمد وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد:

لکه څرنګه چې الله (جل جلاله) انسان عبث اوبې ځایه نه دی پیدا کړی،نودهغه دژوند تګلاره یې هم ورته ښودلې ده.له قرآن کریم ترڅنګ د رسول الله (ص) احادیث دي، چې دمسلمان ژوند پر روښانه لیکو روانوي، نو هر مسلمان ته دا ښایي، چې دخپل وس اوتوان سره سم دقرآن کریم ترڅنګ د رسول الله (ص) پر احادیثوځان پوه کړي.

دا لنډه لیکنه چې په مختلفو موضوعاتو کې د رسول الله (ص) لنډاوجامع احادیث په کې راټول شوي اوژباړه یې روانه اوساده ده، په دې موخه لیکل شوې ده، چې په آسانه توګه ترې استفاده وشي.

دالیکنه خپلو ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته وړاندې کوواو له الله (جل جلاله) څخه غواړو چې زمونږ ژوند ،مرګ، کړنې اوهرڅه دخپلې رضا اوخوښې لپاره وګرځوي.

ددعا په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شه
# خویونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نيت اواخلاص

۱ . عَنْ عُمَرَ(رض) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ. رواه البخاري

له حضرت عمر فاروق (رض)څخه روايت دی: چې رسول الله (ص) فرمايلي دي داعمالو ثواب په نيت پورې تړلی دی، او د هر سړي لپاره هغه څه دي چې ده يې نيت کړي وي ، څوك چې د الله اورسول په خاطر هجرت وکړې، دده هجرت د الله اورسول له طرفه مقبول دې، اوڅوك چې د دنيا د لاس ته راوړنې لپاره هجرت وکړي او يا د کومی ښځې سره د نکاح کولولپاره هجرت وکړې، دده هجرت د هغه څه لپاره دی چې ده ورته هجرت کړی دی. داحديث امام بخاری روايت کړی دي .دا حديث امام بخارې روايت کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض)قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص): ﴿إنَّ الله لاَ يَنْظُرُ إلَى أجْسَامِكُمْ، وَ لاَ إلَى صُوَرِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إلَى قُلُوْبِكُمْ وَ أعْمَالِكُمْ﴾ رواه مسلم.

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی هغه ویلی : چی رسول الله (ص) فرمایلی : په یقینی ډول الله (جل جلاله) ستاسی جسمونو اوشکلونوته نه ګوری بلکه ستاسی زړونواوعملونو ته ګوری.

## توبه اواستغفار

۳. عَنِ الأغَرِّ بْنِ يَسَارٍ الْمُزَنِيِّ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص) : يَا أيُّهَاالنَّاسُ تُوْبُوْا إلَى الله وَاسْتَغْفِرُوْهُ، فَإنِّيْ أتُوْبُ فِيْ الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ ﴾ رواه مسلم

له اغربن سیار مزنی (رض) نه روایت دی هغه ویلی : چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: ای خلکو د الله تعالی ته رجوع وکړی اوبښنه تری وغواړی ځکه چې زه په ورځ کی سل ځله توبه اورجوع کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ . عَنْ أَبِيْ مُوْسَى الأَشْعَرِيِّ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: إِنَّ اللهَ يَبْسُطُ يَدَهُ باللَّيْلِ لِيَتُوْبَ مُسِيْئُ النَّهَارِ وَ يَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوْبَ مُسِيْئُ اللَّيْلِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا. رواه مسلم.

ابوموسی الاشعری (رض) له رسول الله (ص) څخه روایت کوی چې رسول الله (ص) فرمایلی دي : الله تعالی خپل بلا کیفه لاس د شپی له مخې غوړوی ترڅو د ورځی ګناهګاران توبه وباسی اوهمدا ډول د ورځی له مخې خپل بلاکیفه لاس غوړوی تر څو د شپی ګناهګاران توبه وباسی. دا به هغی پوری دوام کوی ترڅو لمر د مغرب له لوری راوخيژی .

## ځواکمن انسان

٥. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ص) قَالَ: ﴿ لَيْسَ الشَدِيْدُ بالصُّرْعَةِ،إِنَّمَاالشَّدِيْدُ الَّذِيْ يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ﴾ متفق عليه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ابوهریره (رض) څخه روایت دی: چې رسول الله (ص) فرمایلې دي : پهلوان هغه څوك ندی چې نور خلك څملوی، حقیقی پهلوان هغه دی چې د غصی پرمهال، خپل نفس په واك كی ولری

## شهادت غوښتنه

٦. عَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ (رض)، أنَّ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: (مَنْ سَألَ اللهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ ، وَ إنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ ﴾ رواه مسلم

له سهل بن حنیف (رض) څخه روایت دی: چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : څوك چی په رینښتیا سره له الله تعالی څخه د شهادت غوښتنه وكړی نو الله تعالی به دی د شهیدانو مقام ته ورسوی كه څه هم هغه په خپل بستر كی مړ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هوښیار انسان

۷. عَنْ أَبِيْ يَعْلَى شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ، وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَ تَمَنَّى عَلَى اللهِ الأَمَانِيَّ رواه الترمذي.

ابویعلی شداد بن اوس (رض) درسول الله (ص) څخه روایت کړي : چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : هوښیار سړی هغه دی چې له ځان سره حساب کتاب وکړی اود اخرت لپاره کاروکړی ، اوکم عقله سړی هغه دی چې خپل نفس دخپلونفسی غوښتنو تابع کړی اود الله تعالی پوري بې ځایه هیلی وتړی.

## لنډه او جامعه دعا

۸. عَنِ ابْنِ مَسْعُوْد (رض) أَنَّ النَّبِيَّ (ص)كَانَ يَقُوْلُ: اَللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى. رواه مسلم

له عبدالله بن مسعود (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) به داسی دعاکوله : ای الله زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تاڅخه د هدایت ، تقوی، پاك لمنۍ او دزړه د غنیوالی سوال کوم.

## په الله تعالی توکل

۹. عَنْ عُمَرَ (رض) قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله (ص) يَقُوْلُ: ﴿ لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُوْنَ عَلَى الله حَقَّ تَوَكُّله لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُوْ خِمَاصاً وَ تَرُوْحُ بِطَاناً﴾ رواه الترمذي وقال حديث حسن.

له حضرت عمر (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی چی ماله رسول الله (ص) څخه اوریدلی دی: که چیری تاسی په ریښتیاسره په الله تعالی باندی توکل او بروسه وکړئ نوتاسی ته به د مرغانوپه څیر روزی درکړي چې سهار له (خپلو ځالوڅخه) په نهاره الوزی او بیګا ته په مړه ګیډه راستنیږی.

## ایمان اواستقامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. عَنْ أَبِيْ عَمْرٍو سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِاللهِ (رض) قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ (ص) ! قُلْ لِيْ فِيْ الإِسْلاَمِ قَوْلاً، لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَداً غَيْرَكَ، قَالَ : " قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ. رواه مسلم

له ابی عمرو سفیان بن عبد الله (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی چی ماوویل ای د الله رسوله! ماته په اسلام کی داسی وینا وښایه چی د هغی په اړه له تاڅخه پرته له بل چا څخه پوښتنه ونکړم ، هغه (ص) راته دا وویل دا ووایه چې ماپر الله تعالی ایمان راوړی دی اوبیا په دی خبره کلك ودریږه.

## دښیګڼې په کارونوکې بیړه کول

۱۱. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ص) قَالَ: ﴿بَادِرُوْا بِالإِعْمَالِ فِتَناً، كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤمِناً وَ يُمْسِيْ كَافِراً وَ يُمْسِيْ مُؤمِناً وَ يُصْبِحُ كَافِراً، يَبِيْعُ دِيْنَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا﴾ رواه مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : په نیکوکارونو بیړه وکړی ځکه چی د توروشپو په څیر فتنی راروانی دی چی د سبا له مخی به یوسړی مسلمان وي او بیګا به کافر وي اوبیګابه مسلمان وی او سبا به کافر وی خپل دین به ددنیا په متاع پلوری

## د دوزخ له اوره ځان ژغورل

۱۲. عَنْ عَدِيٍّ بْنِ حَاتِمٍ (رض) قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ (ص) يَقُوْلُ: (اِتَّقُوْالنَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ ❱ متفق علیه

له عدی بن حاتم (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی چی: ماله رسول الله (ص) څخه اوریدلی دی چی ویل بې : خپل ځانونه له اور څخه وژغوری که څه هم د خرما د یوې ټوټې په صدقه کولو سره وي.

## انفاق في سبيل الله

۱۳. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص): مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ إلاَّ وَ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُوْلُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أعْطِ مُنْفِقاً خَلَفاً. وَيَقُوْلُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أعْطِ مُمْسِكاً تَلَفاً.متفق عليه.

د حضرت ابوهريره (رض)څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: هر سهار چې پر بنده ګانو راخيژي، دوه پرښتې راکوزيږي، يوه وايي: ای الله! صدقه کونکی ته بدله ورکړه، او بله وايي: اي الله ! د بخيل مال هلاك كړه.

١٤. عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ.رواه الترمذي

له حضرت ابومسعود (رض) څخه روايت دی چې د رسول الله (ص) څخه روايت کوي، چې هغه فرمايلي دي: کله چې يو سړی دثواب په نيت په خپل عيال باندې لګښت وکړي، هغه د ده لپاره صدقه دی.

### په دين کې له سختۍ څخه ځان ساتل

١٥. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: (إِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّيْنَ أَحَدٌ إِلاَّ غَلَبَهُ ، فَسَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَبْشِرُوْا، وَاسْتَعِيْنُوْا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَ شَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ ﴾ رواه البخاري.

ابوهریره (رض) له رسول الله (ص) څخه روایت کوی چې رسول الله (ص) فرمایلی دي : بیشکه داسلام دین اسانه دی هیڅ څوك په دین کی سختې نکوی[1] مګرداچې دین پری غلبه کوی[2] نومیانه روی کوئ، د عبادتونوخواته نیژدې کیږئ[3] اوزیری ورکړئ[4]، د خوښۍ اوتکړه توب په وختونو کی عبادت وکړئ (دمسافرپه څیرچې په سهار،له غرمی څخه ورسته اود شپې په یوه برخه کې مزل کوی اوپرته له ستومانتیا منزل ته ځان رسوی )

---

[1]- دا چې خپل ځان له طاقت څخه پورته مکلف کړی

2- دین پری سخیږی اوپاي کی هر څه تری پا تیکیږي

3- د عبادتونو په اداکولو حق اوسموالی ته نیژدی کوی

4- په دی خوښ شئ چې الله تعالی په هغه عمل اجرورکوی چی دوام پکی وی که څه هم لږوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تهجدو لمونځ

۱۶. عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ العَاصِ (رض) قَالَ: قَالَ لِيْ رسُوْلُ اللهِ(ص): ﴿ يَا عَبْدَ اللهِ لاَ تَكُنْ مِثْلَ فُلاَنٍ، كَانَ يَقُوْمُ اللَّيْلَ، فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ﴾ متفق عليه.

له عبد الله بن عمروبن العاص (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی چی: ماته رسول الله (ص) وفرمایل: چې ای عبدالله! د فلانکی سړی په څیر مه کیږه چې شپی د له مخی به دلمانځه لپاره را پورته کیده بیایی دا کار پرېښود.

## له بې ځایه پوښتنوڅخه ډډه کول

۱۷. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) عَنِ النَّبيِّ (ص)قَالَ: ﴿ دَعُوْنِيْ مَا تَرَكْتُكُمْ ، إنَّمَا أهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَثْرَةُ سُؤالِهِمْ وَاخْتِلاَفُهُمْ عَلَى أنْبِيَائِهِمْ، فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوْهُ وَ إِذَا أمَرْتُكُمْ بِامْرٍ فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ متفق عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې ما له رسول الله (ص)څخه اوريدلي دي چې فرمايل يي: له كوم شي څخه چې زه تاسې منع كوم، ځان ترې وساتئ او په كوم شي چې زه تاسې ته امر كوم، د خپل وس په اندازه پرې عمل وكړئ. په تحقيق سره ستاسې څخه مخكې خلك د بې ځايه پوښتنو او له انبياو سره د مخالفت لامله هلاك شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صفونه برابرول

۱۸. عَن أبيْ عَبْد الله النُّعْمَان بْن بَشيْر (رض) قَالَ: سَمعْتُ رَسُوْلَ الله (ص) يَقُوْلُ: ﴿ لَتَسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ أوْ لَيُخَالفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهكُمْ ﴾ متفق عليه.

دحضرت ابوعبدالله نعمان بن بشیر (رض) څخه روایت دی، فرمایي چې ما د رسول الله (ص) څخه اوریدلي دي، چې فرمایل یې: خامخا به ( په لمانځه کې) خپل صفونه برابروئ او یا به الله تعالی ستاسې په منځ کې اختلاف اچوي.

## دین سرترپایه نصیحت دی

۱۹. عَنْ تَميم الدَّاريِّ (رض) أنَّ النَّبيَّ (ص)قَالَ : ﴿الدِّينُ النَّصيحَةُ قُلْنَا لمَنْ؟ قَالَ للَّه وَلكتَابه وَلرَسُوله وَلأَئمَّة الْمُسْلمينَ وَعَامَّتهمْ ﴾ رواه مسلم

د حضرت تمیم داري (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: دین نصیحت او خیرغوښتنه ده.( تمیم (رض) وفرمایل) مونږ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: چې د چا لپاره؟ هغه وفرمایل: د الله لپاره[۱]، د الله د کتاب لپاره،[۲] د الله درسول لپاره،[۳] د مسلمانانو د امامانو لپاره [۴]او دعوامو لپاره.

## دبدوکارونو مخنیوی

۲۰. عن أَبِي سَعِيد سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ﴿ مَنْ رَأَى مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ﴾ رواه مسلم

له حضرت ابوسعید (رض) څخه روایت دی: چې ما د رسول الله (ص) څخه اوریدلي دي، چې فرمایل يې : چاچې له تاسو څخه یو منکر( ناوړه)

---

1- چې الله واحد لاشریك وبلل شي، اوپه حکمونو يې عمل وشي.

2 -چې ایمان پرې رواړل شي او عمل پرې وشي او نورو ته ورسول شي.

3- چې تصدیق يې وشي اوپه سنتو يې عمل وشي.

4- چې په ښو کارونو کې دهغوی اطاعت وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ولید نو هغه دې په خپل لاس منع کړي، که چیرې یې ونشوکولای نو په ژبه دې منع کړي، او که چیرې دا یې هم ونشو کولای نو په زړه کې دې ورسره کرکه وکړي، او دا تر ټولو کمزوری ایمان دی.

## ترټولو غوره جهاد

۲۱. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه (ص):
أفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ أَوْ أَمِيرٍ جَائِرٍ﴾ رواه الترمذي وقال حديث حسن

له حضرت ابو سعید خدري (رض)څخه روایت دی فرمايي: چې رسول الله (ص) فرمايي: د ظالم پادشاه( واکدار) یا ظالم امیر په وړاندې د عدل(حق) وینا تر ټولو ستر جهاد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمجاهد سره مرسته

۲۲. عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ﴿مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا متفق عليه

د زید بن خالد (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: چاچې د الله په لار کې د مجاهد لپاره سامان تیار کړ، نو ده په حقیقت کې غزا وکړه، او چا چې د الله په لار کې د غازي دکور ښه سرپرستي اوپالنه وکړه نو ده په حقیقت کې غزا وکړه.

## کامل مومن نه دی

۲۳. عَنْ أَنَسٍ (رض) قَالَ: قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّهِ (ص) إلاّ قَالَ:لاَ إِيْمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ

له حضرت انس (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی : ډیر کم ځل به مونږ ته رسول الله(ص) خطبه فرمایله مگر داچې ویل به یې کامل مومن ندی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوك چی دامانت ساتنه نکوی اوځوك چې په عهد او وعده وفا نه کوی هغه د کامل دین څښتن ندی

## دمسلمان په هر حالت کې خیر دی

۲٤. عَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه (ص) عَجَبًا لأمْرِ الْمُؤمنِ إن أمْرَهُ كُلُهُ لَهُ خَيْرٌ وَّ لَيْسَ ذَلكَ إلاَّ للْمُؤْمنِ، إنْ أصَابَتْهُ ضَرَّآءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْراً لَهُ وَ أنْ أصَابَتْهُ سَرَّآءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْراً(مسلم )

له صهیب (رض) څخه روایت دی هغه وایی چې رسول الله (ص) فرمایلی دي د مومن وګړی په حال تعجب دی چی دده ټولې چارې دده لپاره خیردی دا حالت یواځی دمومن لپاره دی که ضرر ورته ورسیږی نوصبر پرکوې نودا دده لپاره خیر دی اوکه خوشحالی ورته پیښه شی نوشکریې پرځای کوې داهم دده لپاره خیردی

۲۵. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه (ص) أنْظُرُوْا إلى مَنْ هُوَ أسْفَلَ منْكُمْ، وَلَا تَنْظُرُوْا إلى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَجْدَرُ أن لَّا تَزْدَرُوْا نِعْمَةَ اللّهِ عَلَيْكُمْ (مسلم)

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: په دنیوي چاروکی له خپل ځان څخه ښکته خلکوته ګورئ او له ځان څخه پورته خلکوته مه ګورئ، همدا غوره لار ده چی دالله ه(جل جلاله) نعمتونه سپك ونه ګڼئ .

**د مسلمان آزمیښت**

۲۶. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّهِ (ص) : مَايَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِيْ نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللّهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ. رواه الترمذي.

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : الله تعالی تر هغه پوری په مومن سړی اومومنه ښځه ، د ده په نفس، اولاد اومال باندې امتحان اوازمیښت راولی ترڅو چې له الله تعالی سره په داسې حال کې مخ شې چې پر ده هیڅ ګناه نوی پاتدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله تعالی پر تقدیر رضامندي

۲۷. عَنْ أَنَسٍ (ص) قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ(ص) إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَ إِنَّ اللهَ تَعَالى إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَى وَ مَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ. رواه الترمذي.

له حضرت انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : بیشکه چی لویه بدله اوثواب له لوي ازمیښت سره دی ، اوبیشکه کله چی الله تعالی یوقوم دوست وګڼي نوازمیښت پرې کوي که څوك (دالله په تقدیر) راضی شو نو د هغه لپاره دالله تعالی رضامندی ده اوکه څوك په قهرشو(په تقدیر راضي نشو) نو د هغه لپاره دالله قهردی

## هیڅ ډول ښیګڼه به کمه نه ګڼئ

۲۸. عَنْ جَابِرٍ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) لاَ تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ شَيْئاً وَ إِنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ، وَ أَنْ تَفْرُغَ مِنْ دَلْوِكَ فِيْ إِنَاءِ أَخِيْكَ رواه الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت جابر(رض) څخه روایت دی چی رسول الله (ص) فرمایلی دی: هیڅ یوه نیکی وړه مه ګڼه ( وړه وی اوکه لویه) دا هم د نیکی له جملی څخه دی چی ته له یوه مسلمان ورور سره په ورین تندی مخامخ شی، او دا هم نیکی ده چی له خپلی بوکې څخه د خپل ورور په لوښی کی څه واړوی .

## جامع اوغوڅ نصیحت

۲۹. عَنْ اَبِیْ أَیُوْبَ الأَنْصَارِیِّ (رض) قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إلی النّبِیِّ (ص) فَقَالَ عِظْنِیْ وَأَوْجِزْ، فَقَالَ إذَا قُمْتَ فِیْ صَلَوتِكَ فَصَلِ صَلوةَ مُوَدِّعٍ، وَلَا تُكَلِّمْ بِكَلامٍ تُعْذِرُ مِنْهُ غَداً،وَأجْمِعِ الْیَاْسَ مِمَّا فِیْ أیْدِ النَّاسِ ( ابن ماجة)

له ابوایوب انصاری (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی چی یوسړی رسول الله (ص) ته راغی وه یی ویل ماته لنډ نصیحت وکړه، رسول الله (ص) وفرمایل: کله چې لمانځه ته پورته شوي، له دنیا څخه د رخصت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستونکی په ځیرلمونځ کوه ، داسی خبره مه کوه چې سبا ترې ببښنه غواړې د خلکو په لاس کی چې څه دی، له هغو څخه هیله پرې کړه.

## له الله تعالی څخه حیاء کول

۳۰. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ (رض) قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللّه (ص) : إسْتَحْيُوْا مِنَ اللّه حَقَّ الْحَيَآءَ، قُلْنَا إنَّا نَسْتَحْيِيْ مِنَ الله يَا رَسُوْلَ الله وَالْحَمْدُلله، قَالَ: لَيْسَ ذَلكَ، وَ لَكنَّ الإسْتحْيَاءَ منَ الله حَقَّ الْحَيَاءِ أنْ تَحْفَظَ الرَّأسَ وَ مَا وَعَى وَ الْبَطْنَ وَ مَا حَوَى وَ تَذْكُرَ الْمَوْتَ وَ الْبلَى وَمنْ أرَادَ الآخرةَ تَرَكَ زِيْنَةَ الدُّنْيَا وَ آثَرَ الآخرَةَ عَلَى الأوْلَى فَمَنْ فَعَلَ ذَلكَ فَقَد استَحْيَا منَ الله حَقَّ الْحَيَاءِ. رواه الترمذي

له حضرت عبدالله بن مسعود (رض) څخه روایت د ی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : له الله تعالی څخه په حقه توګه حیاء وکړئ، مونږ وویل: ای د الله رسوله ! مونږ خوله الله تعالی څخه حیاء کوو -الحمد لله- رسول الله (ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: دا مطلب ندی، له الله تعالی څخه حقه حیاء دا ده چې ته سراو هغه څه چې په سرکې دی[۱] اوګیډه او هغه څه چې دګیډی په شاوخوا کې دي[۲] وساتئ مرګ اوزوړوالی په یاد ولرئ، څوك چې د اخرت اراده لری، هغه د دنیا ښایست پریږدی او اخرت ته پر دنیا وړاندیوالی ورکوی، چاچې دا کارونه وکړل نوده په یقینی توګه له الله تعالی څخه په حقه سره حیاء وکړه.

## درياء عمل شرک دی

۳۱. عَنْ شَدَّاد بْنِ أوْسٍ (رض) قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ ا للهِ (ص) يَقُوْلُ: مَنْ صَلَّى يُرَائِيْ فَقَدْ أشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَائِيْ فَقَدْ أشْرَكَ وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِيْ فَقَدْ أشْرَكَ. رواه أحمد.

له شداد بن اوس (رض) څخه روایت دی هغه ویلي

---

1- د ژبې، سترګو،غو،ونو...ساتنه وکړي.

2- د زړه ،عورت .... ساتنه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي : ما له رسول الله (ص) څخه اوريدلي دي چې ويل
يې : څوك چې دځان ښودنې لپاره لمونځ ادا كوي نو
ده له الله تعالى سره شريك پيدا كړ، او څوك چې د
ځان ښودنې لپاره روژه نيسي نوده له الله تعالى سره
شريك پيدا كړ، اوڅوك چې د ځان ښودنې له امله
صدقه كوي نو ده له الله تعالى سره شريك پيدا كړ.

### ښه اخلاق

۳۲. عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ (رض) قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ شَيْءٍ يُوضَعُ فِي الْمِيزَانِ أَثْقَلُ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ وَإِنَّ صَاحِبَ حُسْنِ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ بِهِ دَرَجَةَ صَاحِبِ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ

ام درداء له ابو درداء (رض) څخه روايت كړى
دى هغه ويلي دي: چې ما له رسول الله (ص)
څخه اوريدلي دي چې ويل يې: نشته هيڅ يوشئ چې
په تله كې كيښودل كيږي چې هغه دروند وي له نيك
خوى څخه، اوپه يقيني توګه د نيك خوى څښتن، په

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل نیك خوی سره د لمونځ کوونکی او روژتی مرتبې ته رسیږی.

## په دین کې پوهه

۳۳. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَجِدُونَ النَّاسَ مَعَادِنَ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا وَتَجِدُونَ خَيْرَ النَّاسِ فِي هَذَا الشَّأْنِ أَشَدَّهُمْ لَهُ كَرَاهِيَةً وَتَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَيَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ .متفق علیه

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: تاسې به خلك د معادنو په څیر ومومئ،(چې اصول یې سره جلا دي او یو له بل سره توپیر لري) څوك چې په جاهلیت کې غوره وي، هغه به په اسلام کې هم غوره وي، خوکله چې پوهه ترلاسه کړي، او د مشرۍ لپاره په ټولو کې غوره شخص، هغه څوك دی چې مشري ډیره بده ګڼي.او تر ټولو بد انسان دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخی دی، چې ځینوته په یو مخ راځي او ځینو نورو ته په بل مخ.

## د ظالم مخنیوی

۳٤. عَنْ أَنَسٍ (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّه هَذَا نَنْصُرُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ نَنْصُرُهُ ظَالِمًا قَالَ تَأْخُذُ فَوْقَ يَدَيْه

له حضرت انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: ته له خپل مسلمان ورور سره مرسته وکړه ظالم وی او که مظلوم . هغوي وویل: ای د الله رسوله ! له مظلوم سره خو به مرسته وکړو، له ظالم سره څرنګه مرسته وکړو؟ رسول الله (ص) وویل: د هغه لاسونه له تیری څخه بند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدخویونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلام کې د بدعت بدي

۳۵. عَنْ عَائشَةَ (رض) قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص) : ﴿مَنْ أحْدَثَ فِيْ أمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ ﴾ متفق علیه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی، فرمايي: چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: چاچې زمونږ په دين کې داسې نوی څيز رامنځ ته کړ چې له دين څخه نه وي، هغه مردود دی.

## دبد کار تاداو ايښودل

۳۶. عَن ابْنِ مَسْعُوْد (رض) أنَّ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: ﴿ لَيْسَ مِنْ نَفْسٍ تُقْتَلُ ظُلْماً إلاَّ كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِانَّهُ كَانَ أوَّلَ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ ﴾ متفق علیه.

د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: هيڅ يو نفس

په ظلم سره نه وژل کيږي، مګر دا چې د هغه په وژنه کې د آدم عليه السلام د لمړني زوي(قابيل) برخه شته، ځکه چې هغه د لومړي ځل لپاره د وژنې لار کيښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې عمله داعي

۳۷. عن أسامة (رض) يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله (ص) يَقُولُ: ﴿يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ فَيَدُورُ كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِرَحَاهُ فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ أَيْ فُلَانُ مَا شَأْنُكَ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنْ الْمُنْكَرِ قَالَ كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ﴾ متفق عليه

له حضرت اسامه (رض) څخه روایت دی فرمایي چې ما د رسول الله (ص) څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: د قیامت په ورځ به یو شخص راوړل شي، په اور کې به وغورځول شي نوکولمې به یې په اور کې بریوځي، او داسې به یې چارچاپیر ګرځي لکه خر چې په میچنه ګرځي، نو د دوزخیان یې راټول شي او ورته وایي به: اې فلانیه! په تا څه شوي؟ آیا تا مونږ ته په نیکې امر نه کاوه او له بدې څخه دې نه منع کولو؟ هغه به ووایي: هو! ما تاسې ته په نیکې امر کاوه خو خپله مې پرې عمل نه کاوه، او له بدې څخه مې منع کولې خو په خپله مې بدې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمنا فق نښې

۳۸. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ. متفق عليه

له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی، چې هغه د نبی علیه السلام څخه روايت کړی، چې فرمايل يې: د منافق درې نښې دي: کله چې خبرې کوي، دروغ وايي، کله چې وعده وکړي، نه يې ترسره کوي، او کله چې امانت ورسره کېښودل شي، نو خيانت په کې کوي.

## د بخل بدي

۳۹. عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ﴿ اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ ﴾ رواه مسلم

دحضرت جابر بن عبدالله (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: د ظلم او تيري څخه ځان وساتئ، ځکه چې ظلم د قيامت په ورځ د تيارو لامل دی، او د بخل څخه ځان وساتئ، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بخل ستاسې څخه پخوانې خلک هلاک کړي وو،هغوی یې دیته
اړ ایستل چې وینې توبې کړي، او محارم روا وګڼي.

## د دعا په نه قبلیدو کې د حرامې روزۍ اغیزه

٤٠. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ قَالَ رَسُوْلَ الله (ص) إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لاَ يَقْبَلُ إِلاَّ طَيِّباً ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيْلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ وَ مَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَ مَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَ مَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَ غُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لَهُ. رواه مسلم

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : الله تعالی پاک ذات دی، نه قبلوی مګر پاک. بیایې د یوه سړی مثال وړاندی کړ چې اوږد سفر کوی، ویښتان یې ببر وی، ګرد وهلی وی ، خپل لاسونه د اسمان په لورپورته کوی ، او داسی وایې ای ربه!.. په داسی حال کې چې خوراک یې حرام وی څښناک یې حرام وې او پوښاک یې حرامه وې او په حرامو تغذیه شوی وې، څرنګه به یې دعا قبوله شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستر خیانت

۴۱ . عَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَسِيدٍ الْحَضْرَمِيِّ (رض) قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ بِهِ كَاذِبٌ.رواه ابوداود

له حضرت سفیان بن اسید حضرمي (رض) څخه روایت دی فرمايي: چې ما له رسول الله (ص) څخه اوریدلي دي چې فرمایل يې: دا ډیر ستر خیانت دی چې ته خپل مسلمان ورور ته داسې خبره وکړې، چې هغه تا ریښتونی ګڼي خو ته ورته دروغ وايې.

## دخلکوخندول

۴۲ . عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ جَدِّي قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ بِالْحَدِيثِ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ فَيَكْذِبُ وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ . رواه الترمذي و قَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

له حضرت بهزبن حکیم څخه روایت دی چې فرمايي، ماته پلار له خپل نیکه څخه دا روایت کړی دی چې ما له رسول الله (ص) څخه اوریدلي دي چې فرمایل يې: هلاکت دی هغه چا ته چې خلکو ته داسې خبرې کوي، چې هغوی پرې وخندوي، او د دې لپاره دروغ وایي، هلاکت دی هغه لره، هلاکت دی هغه لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غیبت

۴۳. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قِيلَ لَهُ مَا الْغِيبَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قَالَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ أَيْ رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِنْ كَانَ فِي أَخِيكَ مَا تَقُولُ فَقَدْ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ. رواه الترمذي و احمد

له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې له رسول الله (ص) څخه پوښتنه وشوه، چې ای د الله رسوله ! غيبت څه شی دی؟ هغه وفرمایل: خپل ورور په داسې څه یادول چې هغه یې بد ګڼي، غيبت دی. پوښتنه وشوه. چې ای د الله رسوله! ما په دې پوه کړه، چې که دغه خبره چې زه یې وایم، زما په ورور کې موجوده وي،( بیا هم غیبت دی) ؟ هغه وفرمایل: که چیرې هغه څه چې ته یې وایې، ستا په ورور کې موجود وي، نو تاپې غیبت وکړ، او که په کې نه وي، نو تا پرې بهتان ولګاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غوره مالي

٤٤. عَنْ أَبِي أُمَامَةَ (رض) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ.رواه ابن ماجة

له حضرت ابوامامه (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: په انسانانو کې د قيامت په ورځ، د الله په وړاندې، ترټولو بدترين بنده هغه دی چې خپل آخرت د نورو د دنيا لپاره له منځه يوسي.

## چغل ګر به جنت ته نه ځي

٤٥. قَالَ حُذَيْفَةُ (رض) سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ.متفق عليه

حضرت حذيفه (رض) فرمايي: چې ما له رسول الله (ص) څخه اوريدلي دي: چې چغل ګر سړی جنت ته نه داخليږي.

## حسد نيکي له منځه وړي

٤٦. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ أَوْ قَالَ الْعُشْبَ رواه ابوداود

له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحسد او رخې څخه ځان وساتئ، ځکه چې حسد، نیکۍ خوري، لکه څرنګه چې اور لرګي خوري، او په بل روایت کې دي: لکه اور چې وابنه خوري.

## دښځو په څیر ځان جوړول

٤٧. عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنْ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنْ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ رواه البخاري

له حضرت ابن عباس (رض) څخه روایت دی فرمایي: چې رسول الله (ص) پر هغه نارینه لعنت ویلی دی چې د ښځوپه څیر ځان جوړوي، او پر هغو ښځو یې لعنت ویلی دی، چې د نارینه په شان ځان جوړوي.

## دګناه ښکاره کول

٤٨. عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ (رض) يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنْ الْمُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سالم بن عبدالله څخه روایت دی هغه ویلی دی چې ما له ابوهریره (رض) څخه اوریدلی دی چې ویل یې: ما له رسول الله (ص) څخه اوریدلي دی چې داسی یې ویل :زما ټول امت ته ښښنه کیږې پرته له مجاهر ( په ښکاره ګناه کونکی ) څخه،مجاهرت دیته وایي چې یو سړی د شپې یو کار وکړي، چې سهار شي، الله تعالی پرې پرده واچوي، خو دی ووایي: ای فلانیه! ما نن شپه دا او دا وکړل. د شپې پرې الله تعالی پرده واچوي، خو دی په سهار کې د الله تعالی پرده رالوڅه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حقوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمسلمانانوخپل منځې حقونه

٤٩. عَنْ عَبْدَ اللَّه بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَال : ﴿ الْمُسْلمُ أَخُو الْمُسْلم لَا يَظْلمُهُ وَلَا يُسْلمُهُ وَمَنْ كَانَ في حَاجَة أَخيه كَانَ اللَّهُ في حَاجَته وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلم كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً منْ كُرُبَات يَوْم الْقيَامَة وَمَنْ سَتَرَ مُسْلمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقيَامَة﴾ متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمر(رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: يو مسلمان دبل مسلمان ورور دی، نه پرې ظلم او تيری کوي او نه يې دښمن ته سپاري، څوک چې د خپل مسلمان ورور حاجت پوره کړي، الله تعالی به د ده حاجت پوره کړي، او څوک چې د يو مسلمان څخه يوه مصيبت لرې کړي، الله تعالی به له ده څخه د قيامت له مصيبتونو څخه يو مصيبت لرې کړي، او څوک چې پر يو مسلمان باندې پرده واچوي، الله تعالی به دقيامت په ورځ پر ده پرده واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یومسلمان د بل مسلمان تکیه ده

٥٠.	عَنْ أَبِي مُوسَى عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ﴿إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا وَشَبَّكَ أَصَابِعَهُ﴾ متفق علیه

دحضرت ابوموسی اشعری (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: بیشکه یو مومن د بل مومن لپاره د یو دیوال په څیر دی چې یوه برخه یې بله ټینګوي، او بیا رسول الله (ص) خپلې ګوتې مبارکې یوپه بله کې ننویستې.

## دمسلمان په حق کې سپارښتنه

٥١.	عَنْ أَبِيْ مُوْسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ﴿ كَانَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَهُ السَّائِلُ أَوْ طُلِبَتْ إِلَيْه حَاجَةٌ قَالَ اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ مَا شَاءَ﴾ متفق علیه

دحضرت ابوموسی (رض) څخه روایت دي چې: کله به رسول الله (ص) ته یو سوالګر راغی او یا به چا ترې څه وغوښتل، نو وبه یې فرمایل: تاسې د ده په اړه سپارښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړئ، الله تعالی به تاسې ته اجر درکړي،او الله د خپل نبي په ژبه د هغه څه چې خوښه يې شي، فيصله کوي.

## دمسلمانانوتر منځ سوله کول

۵۲. عَنْ أُمِّ كُلْثُوم بِنْتَ عُقْبَةَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ يَقُولُ : ﴿لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِي خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا﴾ متفق عليه

دحضرت ام کلثوم (رض) څخه روايت دی چې د رسول الله (ص) څخه بې اوريدلي دي، چې فرمايل يې: هغه څوک دروغ جن ندی چې د خلکو ترمنځ سوله کوي، خير ته وده ورکوي يا د خير خبره کوي

## له مسلمان سره مرسته کول

۵۳. عَنِ ابْنِ عُمَرَ (رض) أَنَّ رَسُوْلَ الله (ص) قَالَ: مَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ كَانَ اللّهُ فِيْ حَاجَتِه (بخاری ومسلم)

له عبد الله بن عمر (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلی دی : څوک چې د مسلمان ورور حاجت پوره کوی نوالله تعالی به دده حاجت پوره کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دموراوپلار سره ښیګڼه

**٥٤.** عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ (ص) مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِيْ؟ قَالَ: أُمُّكَ ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: أُمُّكَ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: ثُمَّ أَبُوْكَ. متفق علیه.

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې یو سړي رسول الله (ص) ته وویل: اې د الله رسوله! زما د ښیګڼې څوک ډیر وړ دی؟ هغه وفرمایل: مور دې، بیا یې پوښتنه وکړه، چې بیا څوک؟ ویې فرمایل: مور دې ، په دریم ځل یې وویل:چې بیا څوک ؟ویې فرمایل: مور دې، په څلورم ځل یې پوښتنه وکړه چې بیا څوک ؟ رسول الله (ص) ځواب ورکړ: چې بیا دې پلار.

## د موراوپلارخدمت

**٥٥.** عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) رَغِمَ أَنْفُهُ، رَغِمَ أَنْفُهُ، رَغِمَ أَنْفُهُ، قِيْلَ: مَنْ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ. رواه مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: سپیره دې شي پوزه دهغه، سپیره دې شي پوزه دهغه، سپیره دې شي پوزه دهغه. چا وویل: چې د چا یا رسول الله ! وېې فرمایل: چا چې خپل مور او پلار دواړه په داسې حال کې چې زاړه وي، وموندل، یا یې یو له هغو څخه وموندء، او بیا ددوی دخدمت له امله جنت ته داخل نشو.

## له مرګه وروسته د مور اوپلار حقوق

٥٦. عَنْ أَبِيْ أَسَيْد السَّاعِديِّ (رض) قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ سَلَمَةَ فَقَالَ يَارَسُوْلُ اللهِ (ص) ! هَلْ بَقِيَ مِنْ أَبَوَيَّ شَيْئٌ أَبَرُّهُمَا به بَعْدَ مَوْتِهِمَا، قَالَ نَعَمْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا وَالإِسْتِغْفَارُ لَهُمَا، وَ إِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا، وَ صِلَةُ الرَّحِمِ الّتِيْ لاَ تُوْصَلُ إلاَّ بِهِمَا، وَ إِكْرَامُ صَدِيْقِهِمَا. رواه ابوداود.

له ابو اسید الساعدی (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی چې یوځل مونږ له رسول الله (ص) سره وو چې ناڅاپه دبنوسلمه د قبیلی یوسړی راغی وېی ویل ای د الله رسوله!ایا د موراوپلار داسی څه حق شته چې وروسته له مرګه یې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم ؟ رسول الله (ص) وفرمایل چې هو دهغوی لپاره دعا اوبښنه غوښتل ، او له مرګ څخه وروسته د هغوی کړی وعدی پوره کول ،او د موراو پلار له خپلوانوسره خپلوي پالل ،اود هغوی د دوستانو قدر کول .

## د ښځې حقوق

۵۷. عَنْ حَکِیْمِ بْنِ مُعَاوِیَةَ الْقُشَیْرِيِّ (رض) عَنْ أَبِیْهِ قَالَ: قُلْتُ یَارَسُوْلَ الله (ص) مَا حَقُّ زَوْجَة أَحَدنَا عَلَیْه ؟ قَالَ أَنْ تُطْعمَهُا إِذَا طَعمَتَ وَتَکْسُوَهَا إِذَا اکْتَسَیْتَ وَلاَ تَضْرِبَ الْوَجْهَ وَ لاَ تُقَبِّحَ وَ لاَ تَهْجُرْ إِلاَّ فِيْ الْبَیْت. رواه ابوداود.

حکیم بن معاویه قشری (رض) له خپل پلار څخه روایت کوی هغه ویلی دی : چی ماوویل ای د الله رسوله ! دښځو حق پرمونږ څه دی ؟رسول الله (ص) وویل :کله چې ته څه هغه خواړه ورکړه،اوکوم لباس چې ته اغوندی نوهغه رنګی لباس ورته واخله، په مخ باندی یې مه وهه، هغی ته بد الفاظ مه استعماله وه ،اوله هغی څخه (دضرورت په وخت) یواځې په یوه کوټه کې جدای اختیارکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترټولو غوره ښځه

۵۸.  عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قِيْلَ لِرَسُوْلِ الله (ص) أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ؟ قَالَ: الَّتِيْ تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ وَ تُطِيْعُهُ إِذَا أَمَرَ وَ لاَ تُخَالِفُهُ فِيْ نَفْسِهَا وَ لاَ مَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ. رواه النسائي.

له ابوهريره (رض) څخه روايت دی هغه ويلی دی چې : چا رسول الله (ص) ته وويل: چې په ښځوکې کومه يوه غوره ده ؟ رسول الله (ص) وويل : هغه ښځه چې کله خاوند ورته وګوري نوخوشحاله يې کړي، اوکله چې امر ورته وکړی ، خبره يې ومنی، او دخپل نفس اومال په اړه ترې داسې مخالفت ونکړي، چې هغه پرې خفه کيږي .

## دښځې انتخاب

۵۹.  عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ. رواه البخاري ومسلم

حضرت ابوهريره له رسول الله (ص) څخه روايت کړی دی ،چې ويلي يې دي: ښځه دڅلوروشيانو لپاره په نکاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستل کیږي،د مال لپاره، دحسب لپاره، د ښایست لپاره،او د دین لپاره ،نو دینداره ښځه غوره کړه.لاس دې سپیره شه.

## په هر حالت کې صله رحمی

٦٠. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: إنَّ رَجُلاً قَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ (ص) إنَّ لِيْ قَرَابَةً أصِلُهُمْ وَ يَقْطَعُوْنَنِيْ وَ أحْسِنُ إلَيْهِمْ وَ يُسِيْئُوْنَ إلَيَّ وَأحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُوْنَ عَلَيَّ فَقَالَ: لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأنَّمَا تُسِفُّهُمْ الْمَلَّ وَ لاَ يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللهِ ظَهِيْرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ. رواه مسلم

له ابوهريره (رض) څخه روايت دي چې فرمايي: يوسړی وويل: ای د الله رسوله!زما داسې خپلوان دی چې زه ورسره خپلولی پالم ،او دوی راسره خپلولي پرې کوي، زه ورسره نيکی کوم اودوی راسره بدی کوی ، زه له زغم څخه کاراخلم اودوی جهالت راسره کوی . نو رسول الله (ص) ورته وويل: که په ريښتيا همداسې وي، لکه ته يې چې وايې، نو (دوی به په خپله ودرديږي) لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې پر دوی تودې ایری خورئ[1] ، ترڅوپورې چې ته په همدی حالت یې نودالله تعالی له لوری به له تاسی سره کومک کونکی وی او مرسته به درسره کوی .

## د رزق د پراخې اسانه لار

٦١. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ.متفق علیه

حضرت انس (رض) د رسول الله (ص) څخه روایت کوي، چې فرمایي: څوک چې غواړي په روزۍ کې یې پراختیا راشي، او ښه نوم یې پاتې شي، نو صله رحمي دې وکړي.

## داولاد ښه روزنه

[1]- دا اصطلاح چې (په هغه تودې ایرې خورې)، دا معنا لري چې هغه به په خپله زیانمن شي، او دخجالت اورسوایې سره به مخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۲. عَنْ سَعِيْدٍ بْنِ العَاصِ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) مَانَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ مِنْ نُحْلٍ أفْضَلَ مِنْ أدَبٍ حَسَنٍ. رواه الترمذي

له سعيد بن العاص (رض) څخه روايت دی، چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: هيڅ پلار خپل اولاد ته د ښه ادب څخه پرته بله ښه ورکړه نه ده کړي.

۶۳. عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ. رواه ابوداود

عمرو بن شعيب له خپل پلار او هغه له خپل نيکه څخه روايت کوي چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: خپلو اولادونو ته په اوه کلنۍ کې په لمانځه امر وکړئ، او په لس کلنۍ کې يې ( د لمانځه په پرېښودلو) ووهئ، او د څملاستو ځايونه يې سره جلا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیتیمانو پالنه

٦٤. عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْد (رض) قَالَ: قَالَ رسُوْلُ الله (ص) أنَا وَكَافِلُ الْيَتِيْمِ لَهُ وَ لِغَيْرِهِ فِيْ الْجَنَّةِ هَكَذَا، وَ أشَارَ بِالسُّبَابَةِ وَالْوُسْطَى وَ فَرَّجَ بَيْنَهُمَا. رواه البخاري

له سهل بن سعد (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی : چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: زه او د یتیم پالونکی به ،چې هغه یې خپل وی اوکه د بل چا، په جنت کی داسی یو او په مسواکی اومنځنی ګوتو سره یې اشاره وکړه او د دواړو په منځ کې یې لږشانته پراخې پریښوده.

٦٥. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص): خَيْرُ بَيْت فِي الْمُسْلِمِيْنِ بَيْتٌ فِيْهِ يَتِيْمٌ يُحْسَنُ إلَيْهِ وَشَرُّبَيْت فِي الْمُسْلِمِيْنِ بَيْتٌ فِيْهِ يُسَاءُ إلَيْهِ. رواه ابن ماجة

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی : چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: په مسلمانانوکی غوره کور هغه دی، چې یتیم په کې وی اوښه چلن ورسره کیږی، اوپه مسلمانانوکی ناوړه کور هغه دی چې په هغه کې یتیم وی اوبد چلن ورسره کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دګاونډي حقوق

٦٦. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص): وَ الله لاَ يُؤْمِنُ، وَ الله لاَ يُؤْمِنُ ، وَالله لاَ يُؤْمِنُ، قِيْلَ: مَنْ يَارَسُوْلَ الله ؟ قَالَ الَّذيْ لاَ يَأمَنُ جَارُهُ بَوَائقَهُ. متفق عليه.

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی:چې رسول الله (ص) فرمایلی دی : قسم په الله چې مومن ندی، والله چې مومن ندی، والله چې مومن ندی، چاوویل:څوک؟ ای د الله رسول! رسول الله(ص) وفرمایل: هغه چې ګاونډیان یې له ضررونوڅخه په امن نه وی.

٦٧. عَنْ عَائشَةَ (رض) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ: مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ.متفق عليه

دحضرت عایشي (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دی: ماته جبریل علیه السلام دګاونډي په ا ړه په پرله پسې توګه سپارښتنه کوي، تر دې چې ما دا وګڼله چې په میراث کې به ورته حق ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له کونډوسره ښیګڼه

٦٨. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ قَالَ النَّبِيُّ (ص): السَّاعِيْ عَلَى الأَرْمَلَة وَالْمِسْكِيْن كَالْمُجَاهد فِيْ سَبِيْلِ الله وَ أَحْسبُهُ قَالَ: وَ كَالْقَائم الَّذِيْ لاَ يَفْتُرُ وَ كَالْصَائم الَّذِيْ لاَ يُفْطِرُ.متفق عليه

له ابوهریره (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی:چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: د کونډو ښځو او مسکینانو پالونکی د الله په لارکی د مجاهد په څیردی، راوی وایې: چې زه ګمان کوم چې رسول الله (ص) داسی وویل: چې د داسی لمونځ کوونکی په څیردی چې نه ستومانه کیږی او د داسې روژه نیونکی په څیردی چې افطارنکوی( تل روژه وي) .

## د ناچاروحقونه

٦٩. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقيَامَة يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْني قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمينَ قَالَ أَمَا عَلمْتَ أَنَّ عَبْدي فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ أَمَا عَلمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَني عنْدَهُ يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعمْني قَالَ يَا رَبِّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي قَالَ يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ قَالَ اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي.رواه مسلم

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: الله (جل جلاله) د قیامت په ورځ فرمایي: ای د آدم علیه السلام اولادې! زه ناروغه شوم خو تا مې عیادت(پوښتنه) ونکړ، هغه به ووایي: ای پروردګاره! زه څرنګه ستا عیادت وکړم، ته خو دټول عالم پالونکی یې.الله تعالی به وفرمایي: آیا ته خبر نه وې چې زما فلانی بنده ناروغه شوی و، او تا یې پوښتنه ونه کړه، که چیرې ته هلته ورغلی وای نو زه به دې هلته موندلی وم. ای بنی آدمه! ما له تا څخه روزي وغوښته، خو تا رانکړه. بنده به ووایي: اي پروردګاره! زه تاته څرنګه روزي درکړم، ته خو دټول عالم پالونکی یې. الله تعالی به وفرمایي: آیا ته پوه نه وې چې له تا څخه زما فلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده روزې وغوښته خو تا ورنکړه،آیا ته خبر نه وې چې که هغه ته دې روزي ورکړې وای نو د هغې اجر به دې دلته موندلی و. اي بني آدمه! ما له تا څخه د څښاک لپاره څه وغوښتل، خو تا رانکړل. بنده به وايي: اي پروردګاره! څرنګه مې تاته څښاک درکړی وای، ته خو دټول عالم رب يې. الله تعالی به وفرمايي: آيا ته خبر نه وې چې زما فلاني بنده له تا څخه دڅښاک لپاره څه وغوښتل خو تا ورنکړل، خو پوه شه که تا هغه ته څښاک ورکړی واي، نو دلته به دې له ماسره دهغې ثواب موندلی وای.

۷۰. عَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى. متفق علیه

حضرت نعمان بن بشیر (رض) فرمايي: چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: ته به مومنان په خپل منځي مهرباني، دوستۍ او زړه سوي کې د يوه بدن په څير وګورې، کله چې په يوه غړي بې درد راشي، ټول بدن ورسره په تبه او بې خوبۍ ناکراره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیومسلمان پر بل مسلمان ځانګړي حقونه

۷۱.     عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ص) قَالَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِيلَ مَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللَّهَ فَشَمِّتْهُ وَإِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَإِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ .رواه مسلم

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چي رسول الله (ص) فرمایلي دي: د یو مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقونه دي.چا وویل: هغه کوم دي؟ ای دالله رسوله! ویې فرمایل: کله چي ورسره مخ شوي، سلام پرې واچوه، کله یې چي بلنه درکړه، ویې منه، کله یې چي نصیحت درڅخه وغوښته، نصیحت ورته وکړه، کله یې چي پرنجی وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوالحمدلله یې وویل: نوځواب یې ورکړه[1]، کله چې ناروغه شو، پوښتنه یې وکړه، او کله چې مړ شو نو په جنازه کې یې ګډون وکړه.

۷۲. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (ص) أَيُّمَا مُؤْمِنٍ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَقَى مُؤْمِنًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ كَسَا مُؤْمِنًا عَلَى عُرْيٍ كَسَاهُ اللَّهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ. رواه الترمذي

له حضرت ابوسعید خدري (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: هر مومن چې وږي مومن ته خواړه ورکړي، الله تعالی به پرې دقیامت په ورځ دجنت له میوو څخه میوه، وخوري. او هر مومن چې تږی مومن خړوبه کړي، الله تعالی به دی، د قیامت په ورځ په رحیق مختوم(پوښلي شرابو) سره خړوبه

[1]- کله چې څوک پرنجې وکړي، هغه به (الحمد لله) وایي، چاچې واوریده، هغه به ورته (یرحمک الله) وایي، او بیا به پرنجي کونکی ورته (یهدیکم الله ویصلح بالکم ) وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، او هر مومن چې بربنډ مومن پټ کړي، نو الله تعالی به د جنت شنې جامې ورواغوندي.

## سلام اچول دمحبت د زیاتیدو وسیله ده

۷۳. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَده لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمنُوا وَلَا تُؤْمنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَ لَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ رواه مسلم.

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: قسم مې دې وي په هغه ذات چې زما نفس يې په لاس کې دی، تاسې به جنت ته داخل نشې، ترڅو چې ایمان رانه وړئ، او تر هغه به ایمان راونه وړئ، ترڅو چې یو له بل سره مینه ونه کړئ، آیا تاسې ته داسې څه ونه ښایم چې که عمل پرې وکړئ، نو یو له بل سره به مو مینه زیاته شي. په خپل منځ کې سلام اچول رواج او خپور کړئ.

## له مزدور سره ښېګڼه

۷٤. عَنْ عَبْد اللَّه بْنِ عُمَرَ (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه (ص) أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجفَّ عَرَقُهُ رواه ابن ماجة

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت عبدالله بن عمر (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: مزدور ته مخکې لدې چې خوله يې وچه شي، مزدوري ورکړئ.

## مرورتوب

۷۵. عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ (رض) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ (ص) قَالَ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ . متفق عليه

له حضرت ابوايوب انصاري (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي:مومن سړي ته روا ندې چې د درې شپو څخه زيات د بل مسلمان څخه مرور شي، په داسې ډول چې يو بل سره مخ کيږي، او يو له بل څخه مخ اړوي، او په دوی کې غوره هغه دی چې لومړی سلام واچوي.

## عيب لټونه

۷۶. عَنْ ابْنِ عُمَرَ(رض) قَالَ صَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ (ص) الْمِنْبَرَ فَنَادَى بِصَوْتٍ رَفِيعٍ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ مَنْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يُفْضِ الْإِيمَانُ إِلَى قَلْبِهِ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ تَتَبَّعَ عَوْرَةَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ تَتَبَّعَ اللَّهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ تَتَبَّعَ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ . رواه الترمذي

له حضرت ابن عمر (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) منبر ته وختوت او په لوړ آواز یې غږ وکړ او ویې ویل: اي تش په نامه مسلمانانو چې ایمان مو زړه ته ندی پریوتی! مسلمانانو ته ضرر مه رسوئ، پیغور مه ورکوئ، او عیبونه یې مه لټوئ، ځکه چا چې د مسلمان ورور عیب ولټاوه، الله تعالی به د ده عیبونه رابرسیره کړي، او دچا عیب چې الله تعالی راوسپړه، هغه رسوا کوي،که څه هم دخپل کور په منځ کې وي.

## ریښتینی مفلس

۷۷. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِنْ حَسَنَاته فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْه أُخذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْه ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: آیا تاسې پوهیږئ، چې مفلس څوک دی؟ هغوی وویل: په مونږ کې مفلس هغه څوک دی چې درهم او متاع (پیسې اونور سامان) نه لري.نو رسول الله (ص) وفرمایل: زما په امت کې مفلس هغه څوک دی چې دقیامت په ورځ د لمانځه، روژې او زکات سره راشي، خو یو ته یې کنځل کړي وي، پر بل یې بې ځایه تهمت لګولی وي،دبل یې مال خوړلی وي، د بل یې وینه تویه کړې وي، بل یې وهلی وي. نو یوه ته به د ده له نیکیو څخه څه ورکړل شي، او بل ته به هم څه ورکړل شي، او که مخکې لدې چې د خلکوحقونه پوره شي، د ده نیکې ختمې شي، نو د نورو ګناهونه به پر ده واچول شي، او بیا به اور ته وغورځول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمسلمان پرغم خوشحالي نه ده پکار

۷۸. عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ لَا تُظْهِرْ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمَهُ اللَّهُ وَيَبْتَلِيكَ رواه الترمذي وقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ

له واثله بن اسقع (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دی، د خپل ورور په غم خوشحالي مه کوه، ځکه چې الله تعالی به په هغه رحم وکړي (او دغم څخه به يې خلاص کړي) او تا به پرې اخته کړي.

## دبلني اجابت

۷۹. قَالَ عَبْدُ اللَّه بْنُ عُمَرَ (رض) قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ مَنْ دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَمَنْ دَخَلَ عَلَى غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِيرًا رواه ابوداود

حضرت عبدالله بن عمر (رض) فرمايي: چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: څوک چې ( يو مناسبت ته ) وبلل شو، او اجابت يې ونکړ، په تحقيق سره ده د الله او د رسول نافرماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، او څوک چې پرته له بلنې چا کره ولاړ، هغه د غل په شان ننوت،اووداړه مار په توګه راووت.[۱]

## دچا کور ته د ورتلو پر مهال اجازه غوښتل

۸۰. عَنْ أَبِيْ مُوْسَى الأَشْعَرِيِّ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) : الاسْتِئْذَانُ ثَلاَثٌ، فَإِنْ أُذِنَ لَكَ وَ إِلاَّ فَارْجِعْ. متفق عليه.

له حضرت ابوموسی اشعري (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: اجازه اخیستل تر درې ځلو پورې دي، که چیرې اجازه درکړل شول( نو ورشه) او که اجازه درنکړل شوه، بیرته وګرځه

## میلمه پالنه

۸۱. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ(رض) أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ (ص) قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ

---

[1]– څوک چې دکور دڅښتن داجازې پرته ننوزي،هغه دغل سره تشبیه شوی دی، او څوک چې خوراک وکړي نو ګوندې هغه داړه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْراً أَوْ لِيَصْمُتْ. متفق علیه.

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: څوک چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ایمان لري، د میلمه عزت دې وکړي، او څوک چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، خپلوي دې وپالي، او څوک چې په الله تعالی او دآخرت په ورځ ایمان لري، یا دې ښه خبره وکړي، او یا دې چپ کېښیني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسلام ارکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قیامت په ورځ ترټولولومړی پوښتنه

۸۲. عَنْ عَبْدِالله بْنِ قُرْط (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص) أَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَة، الصَّلَاةُ فَإِنْ صَلَحَتْ، صَلَحَ سَائِرُ عَمَلِهِ وَ إِنْ فَسَدَتْ، فَسَدَ سَائِرُ عَمَلِهِ. رواه الطبراني.

له حضرت عبدالله بن قرط (رض) څخه روایت دي هغه ویلي: چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: دقیامت په ورځ به دبنده سره تر ټولو دمخه دلمانځه حساب کتاب کیږي، که لمونځ یې بشپړ وو، نو ټول عملونه به یې پوره وی اوکه لمونځ یې فاسد وخوت نو ټول عملونه به یې فاسد شي .

۸۳. عَنْ عُبَادَةَبْنِ الصَّامت (رض)قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله (ص): خَمْسُ صَلَوَات افْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالَى، مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَ صَلاَهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوْعَهُنَّ وَخُشُوْعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى الله عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ وَمَنْ لَّمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى الله عَهْدٌ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ. رواه ابوداود.

له عباده بن صامت (رض) څخه روایت دی هغه ویلی چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: الله تعالی پنځه وخته لمونځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرض کړی دي.څوک چې په ښه توګه اودس وکړي اوپه خپلوټاکلیووختونوکې يې ادا کړی، په پوره اهتمام سره رکوع وکړی، په خشوع سره يې ادا کړی، له ده سره دالله تعالی ژمنه ده چې ببښنه ورته وکړي، او چاچې دا کار ونکړ، نو له ده سره دالله تعالی ژمنه نشته، که خوښه يې شوه ببښنه به ورته وکړي، او که يې خوښه شوه،عذاب به ورکړي.

## دمنافق لمونځ

٨٤. عَنْ أَنَسٍ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) تِلْكَ صَلَوةُ الْمُنَافِقِ، يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا اصْفَرَّتْ وَ كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعاً لاَ يَذْكُرُ اللهَ فِيْهَا إِلاَّ قَلِيْلاً. رواه مسلم.

د حضرت انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: دا د منافق لمونځ دی، چې کښيني او د لمر انتظار وباسي، ترڅو ژیړ شي او د شیطان د دوه ښکرونو منځ ته راشي، بيا پاڅيږي او څلور ټونګې ووهي، او الله تعالی په کې ډير لږ يادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له جومات سره محبت د ایمان نښه ده

۸۵. عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِ (رض) عَنِ النَّبِيِّ (ص) قَالَ: إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلُ يَعْتَادُ الْمَسَاجِدَ فَاشْهَدُوْا لَهُ بِالإِيْمَانِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعید خدري (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: کله چې یو سړی وګورئ چې جومات ته ځي راځي، نو د هغه په ایمان ګواهي ورکړئ.

## د رمضان روژه د تیروګناهونوکفاره ده

۸٦. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسَولُ الله (ص) مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيْمَاناً وَّاحْتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه، وَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيْمَاناً وَاحْتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه. متفق علیه.

دحضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: چا چې دایمان پر اساس او دثواب په نیت روژه ونیوله نو هغه ته به مخکیني ګناهونه وبخښل شي. او څوک چې دایمان پراساس او د ثواب په نیت د روژې په شپه لمونځ وکړي، هغه ته مخکیني ګناهونه بخښل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې او قرآن شفاعت

۸۷. عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ (رض) قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص): الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ، يَقُوْلُ الصِّيَامُ: أيْ رَبِّ! إنِّيْ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ وَ يَقُوْلُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ، فَيُشَفَّعَانِ. رواه البيهقي.

دحضرت عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: روژه او قرآن د بنده لپاره سپارښتنه کوي، روژه وايي: اې ربه! ما دی د ورځې له خوا له خوراک او خوندونو څخه منع کړی و،نو د ده په اړه زما شفاعت ومنه. او قرآن وايي:ما دی د شپې له مخې له خوب څخه منع کړی و، نو د ده په اړه زما شفاعت ومنه. نو د دواړو شفاعت به ومنل شي.

## په ښه توګه حج اداءکول

۸۸. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَ لَمْ يَفْسُقْ، رَجَعَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أمُّهُ.رواه البخاري

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: چا چې د الله لپاره حج وکړ او هلته (

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلې میرمنې سره) یو ځای نشو، او ګناه یې ونه کړه، نو داسې به راوګرځي، لکه مور چې نوی زېږولی وي [۱]

## دزکات نه ورکولوسزا

۸۹. عَنْ أبِيْ هُرَيْرَةَ (رض) قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالاً فَلَمْ يَؤَدِّ زَكَاتَهُ، مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَة شُجَاعاً أَقْرَعَ لَهُ زَبِيْبَتَانِ طَوَّقَهُ يَوْمَ الْقِيَامَة ثُمَّ يَأخُذُ بِلِهْزِمَتَيْه يَعْنِيْ شِدْقَيْه ثُمَّ يَقُوْلُ: أنَا مَالُكَ، أنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلاَ ( وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ .. الآية.

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: چا ته چې الله تعالی مال ورکړی وي، او د هغې زکات اداء نه کړي، نو دغه مال به ده ته دقیامت په ورځ د یو(زهرجن) ګنجی مار په څیرجوړ شي، او د سترګو په سر به یې دوه تور ټکي وي.دقیامت په ورځ په ترې راچاپیره شي، او د وښکو څخه به یې راونیسي او ورته وبه وایي: چې زه ستا مال یم، زه ستا زیرمه یم. بیا یې

[۱] - د ګناهونو څخه به پاک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا آیت ولوست: (گمان دې نه کوی هغه کسان چې بخل کوي...)

دسورت آل عمران ۱۸۱آیت یې ولوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خورې ورې مرغلرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غوسې علاج

۹۰. عَنْ عَطِيَّةَ (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَضَبَ منْ الشَّيْطَان وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلقَ منْ النَّارِ وَإِنَّمَا تُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ رواه ابوداود.

له حضرت عطیه (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: په تحقیق سره قهر اوغصه د شیطان له خوا دي، او شیطان له اور څخه پیدا شوی دی، او اور په اوبو سره مړ کیږي،که چیرې یو له تاسې څخه په غصه شو نو اودس دې وکړي.

## دجنت ضمانت

۹۱. عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْد (رض) عَنْ رَسُولِ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْه وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْه أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ رواه البخاري.

له حضرت سهل بن سعد (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: څوک چې ما ته د دواړو ژامنو او د دواړو پښو ترمنځ (د اندامونو) ضمانت راکړي، زه ورته دجنت ضمانت ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۲. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رض) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَرْفَعُهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ رواه البخاري

له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: ډیر ځله یو بنده داسې خبره وکړي، چې الله پرې راضي کیږي، او د ده ورته پام هم نه وي، الله تعالی پرې د ده درجات پورته کړي، او ډیر ځله یو بنده یوه داسې خبره وکړي، چې الله پرې ناراضه کیږي، او د ده ورته پام هم نه وي، او د هغې لامله جهنم ته ورپریوزي.

## د مسئولیت احساس

۹۳. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ الْإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ قَالَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَحَسِبْتُ أَنْ قَدْ قَالَ وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ. رواه البخاري ومسلم.

حضرت عبدالله بن عمر(رض) فرمايي: ما له رسول الله (ص) څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: هر يو له تاسو څخه مسئول دی، او هر څوک د خپل لاس لاندې خلکوپه اړه مسئول دی، امام(واکدار) دخپل رعيت په اړه مسئول دی، سړی په خپل کور کې مسئول دی، هغه دخپل عيال په اړه مسئول دی، ښځه دخاوند د کور په اړه مسئوله ده، او دخپل عيال مسئوله ده، نوکر دخپل بادار دمال په اړه مسئول دی، او دخپل لاس لاندې چارو مسئول دی. حضرت عبدالله بن عمر فرمايي: چې ګمان کوم رسول الله (ص) دا هم وويل: چې سړی دخپل پلار دمال په اړه مسئول دی، او دخپل رعيت مسئول دی، او هر يو له تاسې څخه دخپل رعيت په اړه مسئول دی.

## دکسب غوره والی

۹٤. عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يَحْتَطِبَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً عَلَى ظَهْرِهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ أَحَدًا فَيُعْطِيَهُ أَوْ يَمْنَعَهُ. رواه البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابوهریره درسول الله (ص) څخه روایت کوي، چې هغه فرمایل: که چیرې یو له تاسو څخه په خپله شا باندې د خسو اوخاشاکو ګیډۍ راوړي، دا ورته لدې غوره ده چې دچا څخه سوال وکړي، ځکه چې هغه به یا څه ورکړي،او یا به یې ورنکړي.

## دمرګ غوښتنه مه کوئ

**۹۵.** عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمْ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ أَصَابَهُ فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلْ اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتْ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتْ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي. رواه البخاري

له حضرت انس (رض) څخه روایت دی،چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: د مصیبت لامله هیڅکله دمرګ غوښتنه مه کوئ، که چیرې یې غواړئ،نوداسې ووایئ: ای ربه ! که زما په ژوند کې خیر وي،نوژوند راپه برخه کړه، اوکه په مرګ کې مې خیر وي نووفات مې کړه

## مشتبهات(شکمن شیان)

**۹۶.** عن النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ (رض) يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ فَمَنْ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا إِنَّ حِمَى اللَّهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ

له نعمان بن بشير (رض) څخه روايت دی هغه ويلي: ما له رسول الله (ص) څخه اوريدلي دي چې فرمايل به يې : حلال اوحرام دواړه څرګند دی ، او د دوی ترمنځ مشتبهات (شکمن شيان ) دي چې زيات شميرخلک پرې نه پوهيږي، چا چې له مشتبهاتو(له شکمنوشيانو)څخه ځان وژغوره هغه خپل دين اوپت وساته ، اوکه څوک په مشتبهاتوکې پريوت ، مثال بې د هغه شپون دی چې خپله رمه د ساتل شوي څرځای په شااوخوا کې پيايي ، نژدې ده چې دې به پکې پريوزي، خبراوسئ چې هربادشاه د خپل ځان لپاره ساتلی ځاي لری او په ځمکه کې د الله تعالی ساتل شوی ځاي، د ده لخوا حرام کړل شوي شيان دي، اوخبراوسئ چې په بدن کې يوه ټوټه ده کله چې هغه صالحه شي ،ټول بدن ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالح شی اوکله چې هغه فاسده شي ټول بدن ورسره فاسديږی.
خبراوسی چې هغه زړه دی .

## په هراندام صدقه

۹۷. عَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنْ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنْ الضُّحَى. رواه مسلم

حضرت ابوذر (رض) د رسول الله (ص) څخه روايت کوي،چې هغه فرمايلي دي:هر سهار ستاسې په هر اندام(مفصل) باندې صدقه لازمه ده. هر ځل سبحان الله ويل صدقه ده، هرځل الحمدلله ويل صدقه ده، هرځل لااله الاالله ويل صدقه ده ،هرځل الله اکبر ويل صدقه ده، په نيکۍ باندې امر کول صدقه ده، له بدۍ څخه منع کول صدقه ده.اولدې ټولو څخه د ځاښت دوه رکعته لمونځ کفايت کوي.

## ښه اوبد ملګري

۹۸. عَنْ أَبِي مُوسَى (رض) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه (ص): مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْمِسْكِ وَكِيرِ الْحَدَّادِ لَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَعْدَمُكَ مِنْ صَاحِبِ الْمِسْك إِمَّا تَشْتَرِيهِ أَوْ تَجِدُ رِيحَهُ وَكِيرُ الْحَدَّادِ يُحْرِقُ بَدَنَكَ أَوْ ثَوْبَكَ أَوْ تَجِدُ مِنْهُ رِيحًا خَبِيثَةً.

له حضرت ابوموسی (رض) څخه روایت دی فرمايي چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: د نیک ملګري او بد ملګري مثال د عطرپلورونکي او دپښ د بټۍ دی. دعطر پلورونکي څخه به بې برخې نه پاتې کيږي، یا به ترې څه واخلي او یا به ترې خوشبويي ومومئ، او د پښ په بټۍ کې به دې بدن یا جامې وسوزي او یا به ترې بد بويي ومومئ.

## دوه ځانګړی نعمتونه

۹۹. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (رض) قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ (ص) نِعْمَتَانِ مَغْبُوْنٌ فِيْهِمَا كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ : الصِّحَّةُ وَ الْفَرَاغُ رواه البخاري.

له ابن عباس (رض) څخه روایت دی هغه ویلی دی : چې رسول الله (ص) فرمایلی دی: چی دوه نعمتونه داسی دی چی زيات شمير خلک پکی زيانكاران دی: چی يوېي روغتيا اوبل يې وزګارتيا اوفراغت دی

## له رسول الله سره محبت

۱۰۰. عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ.رواه البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایلي دي: یو له تاسې څخه مومن نشي کیدلای ترڅو چې زه ورته دپلار، زوي او ټولو خلکو څخه محبوب نه اوسم.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**